LEED Social Sceince AcademicJournal

لېډ د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د ټولګي د مديريت اغېزه د تدريس پر کيفيت باندي

ن.پوهنيار حمدالله احسان[1*] پوهنمل دوکتور نور احمد اېمل[2]

[۱،۲]پښتو څانګه، ښووني او روزني پوهنځی، هلمند پوهنتون، هلمند-افغانستان

ايميل: Ehsanhamdullah@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۱۰/۱۷ ، منل سوي:۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه:۱۱۱-۱۲۷

**لنډيز**

د ټولګي مديريت په دې مانا دی ، چي ټولګي د هر اړخه ښخه يوه ارامه او درسي فضا ولري، د ټولګي اداري او تنظيم ته د ټولګي مديريت وايي، او زده کوونکي ځان داسي احساس کړي چي، زه په پوره توګه ودې ته اماده يم، چي د ښوونکي ښخه نوي معلومات او درس ترلاسه کړم.که ټولکی ښه او منظم مديريت سي؛ نو زده کړه به اغېزمنه، ارامه او هدفمنه وي.که چيري يو ټولګی په پوره توګه تنظيم او ترتيب وي خو تدريس صورت و نه نيسي، بياهم ټولګي مديريت نه سول. ددې مقالې په لوستلو سره به ګرانو ښوونکو ته د يو ټولګي غښتلی مديريت وښودل سي چي څه ډول خپل ټولګي سم مديريت کړو. او کوم څه اړين دي چي د هغو په تطبيق کولو سره يو ښه درسي چاپيريال جوړ کړو. او د ټولګي ښه مديريت او تنظيم به د درس په کيفيت څه رول ولري.

**کليدي کلمې:** ټولګی، زده کوونکی، ښوونکی، کنټرول. تنظيم ، مديريت.

# The Impact of Classroom Management on Teaching Quality

**Teaching Assistant Hamullah Ahsan[*1], Assistant Professor Dr. Noor Ahmad Emall[2]**

[1,2]Pashto Department, Faculty of Education, Helmand University ,Helmand-Afghansitan

Email: Ehsanhamdullah@gmail.com

**Abstract**

Classroom Management refers to the creation and maintenance of a calm, orderly, and effective learning environment in which teaching and learning can take place successfully. It involves the organization, administration, and regulation of classroom activities in a way that enables students to feel prepared, motivated, and capable of developing their knowledge through instruction provided by the teacher. A classroom that is well organized but lacks effective teaching cannot be considered properly managed. This article aims to present teachers with practical and effective strategies for establishing strong classroom management and explains the essential elements required to create a positive and productive instructional environment.

**Keywords**: classroom, student, teacher, control, organization, management.

## سريزه

د ښه او اغېزمن تدريس له پاره بايد ښوونکی ښه تدريسي پلان، روښانه او واضيح اهداف، مناسب مېتود ولري په تدريس کي چي دعنوان او مطلب اهداف روښانه او ښکاره وي او په ښه ډول او ميتود وړاندي سي موثريت يې ډېر دی، زده کوونکي يې ژر هضمولای او هم زده کولای سي.کله چي دا

چاري سمي نه وي، نو د ټولګي نظم له منځه ځي د ټولګي کنټرول او مدیریت یو له مهمو او ارزښتمو کارونو څخه شمېرل کیږي، چي تر ډېره مرکزي رول پکښې استاد یا ښوونکی لري او همدارنګه زده کوونکي هم پوره برخه پکښې اخستلای سي، ځګه زده کوونکی هم د تدریس په پروسه کي دخیل دی، د ټولګي مدیریت یو له اساسي کارونو څخه دی، چي د ښه تدریس د بر قراره کېدو شرایط جوړوي. د ټولګي کنټرول او مدیریت دې ته وايي، چي ښه او ارامه فضا په ټولګي کي وجود ولري، او هر څه د پلان او پالیسۍ له مخي ترسره کیږي. لکه: لکچر ورکول، د فعالیتونو تر سره کول، د ټولګي د زده کوونکو ارزیابي کول او همدا ډول ګروپي او انفرادي فعالیتونه کول، کورنۍ دندې او د هغوی کتل او داسي نوري کړني چي په یو ښه ، خوندوره ، د اعتماده او باوره ډکه فضا کي رامنځته کیږي. کله چي داسي ترتیب او تنظیم په ټولګي کي وجود ولري؛ نوخود به خود به زده کوونکي په ډېر کم وخت کي ډېر پرمختګ وکړي او ډېر څه به یې زده کړي وي. د ټولکي د مدیریت او کنټرول له پاره بېلابېل مدیریتونه شتون لري، چي هغه عبارت دي د ډیموکراسي مدیریت، دخیل او زور واکي مدیریتونو څخه چي هر یو د خپل ځان له پاره ښېګني او نیمګړتیاوي لري،خو تر ټولو پر دې ترکیز او تینګار سوی، چي کله استاد ټولګي ته ځي له ځان سره د ټولګي د ښه مدیریت او ښه تدریس پلان ولري. بې پلانه ښوونکی دا سي مثال لري لکه یو څوک چي بې اسلحې او کارتوسو د جنګ میدان ته ځي. یو ښه تدریسي پلان د ټولګي په نظم او کنټرول کي هم پوره ونډه لري.

او همدارنګه ښوونکو ته سپارښتني هم سوي دي، چي کله ټولګي ته ځئ؛ ځان د یو حاکم او دیکتاتور په شکل جوړ نه کړئ او نه هم داسي کړني وکړئ چي د ټولګي د نظم د اخلال سبب سي، چي له هغوی څخه د ټولګي د اصولو او قوانینو ماتول او نقصول دي. یعني د ټولګي اصول او مقررات باید پر ټولو زده کوونکو یو ډول پلي سي. او د مقرراتو په تطبیق کي ښوونکی جدي اوسي نه چي کله پلي او کله نه پلي کیږي. ځیني وخت د ښوونکو له خوش باورۍ څخه هم زده کوونکي نا وړه استفاده کوي او د درس او د ټولګي د تنظیم د ګډوډۍ لامل کیږي.

ښوونکی باید د ټولګي وه فزیکي او رواني چاپیریال او محیط ته هم ځانګړي پاملرنه وکړي، ځکه که ټولګی د فزیکي او رواني اړخه ارامه وي اغېزمن او باکیفیته تدریس تر سره کیږي. د ټولګي په دننه کي د زده کوونکو و قطارونو ته توجه و کړي او د منظم کولو توصیه ورته وکړي میز او چوکی بې ځایه نه وي، او کله چي زده کوونکي په لاینونو او قطارونو کي کښېنوي باید د هغوی بیالوژیکي ځانګړني هم

په نظر کې ونیسي، لوړ قد او ونه ولا په اخیر کې او ټیټ او ژر نه پوهېدونکي زده کوونکي په اول قطار کې کښېنوي او هغوی ته ځانګړې پاملرنه وکړي. (د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

ښــوونکی باید د خپلو زده کوونکو سره دوامداره د ســترګو رابطه ولري او د هغوی سره په مینه او د درنښت ډکه رویه درس مخ ته یوسي، د تدریس په جریان کې د هغوی څخه نظارت هم وکړي.

### د څېړنې ارزښت

کله چې په ټولګي کې نظم او انظباط وي، او د تدریس له پاره ټول فزیکي او رواني شرایط برابر وي؛ نود تدریس څخه به هم ښــوونکی او هم زده کوونکي ښــه اســتفاده وکړي. د دې څېړنې ارزښــت د ښــوونکو او مدیرانو له پاره په دې کې دی، چې کله د ښــوونکي ټولګي کنټرول او مدیریت وي؛ نو ښوونکی به د ګډوډۍ او مشکله خلاص تدریس ولري، او کومې متوقعه پایلې چې ښوونکی له خپل کورس څخه لري هغه به په مثبت ډول تر لاسه سوې وي.

دا څېړنه به د زده کوونکو په زده کړه او پرمختګ کې ارزښــت ولري، د هغوی مهارتونه به پیاوړي کړي؛ ځکه که تدریس په اغیزمنه توګه وسي اوپه ټولګي کې د زده کوونکو په خپل منځ او همدارنګه د استادانو سره فضا صــمیمانه او د بې نظمۍ څخه خلاصــه وي؛ نو ښــه او با کیفیته تدریس به ســوی وي، او زده کوونکو به ډېره زده کړه کړې وي.

### د څېړنې موخې

۱ـ د تدریس د کیفیت په لوړوالي کې د ټولګي د مدیریت او کنټرول رول.

۲ـ د هغو تېروتنو حل کول چې د ټولګي او تدریس د ګډوډۍ سبب کیږي.

۳ـ په ټولګي کې د یوه ښه تدریس او غوره چاپیریال را منځته کول.

۴ـ د ټولګی د مدیریت د اهمیت ښوول د ښوونکي د اساسي مهارت په توګه

### د څېړنې ستونزه

په روزمره ژوند کې که موږ فکر کړی وي اکثره اســتادان د خپلو شــاګردانو او زده کوونکو سره د هغوی په تنظیمولو ،کنارولو او د ټولګي په ســم مدیریت کې په ســتونزه کې وي او ډېر وخت په دې ضایع کوي، چې یوه ارامه او له غالمغاله خلاصه درسي فضا ولري او ښه تدریس صورت ونیسيـ بله مهمه او اساسي ستونزه دا وه چې ښوونکي زحمت ایستلی وي تدریس یې کړي؛ خو زده کوونکي اخیستنه نه وي کړې او ښه تدریس صورت نه وي نیولی.نو دا مقاله ددې ستونزو په لیدلو او درک کولو کې ترسره سوې چې څنګه ټولګی سم مدیریت او تنظیم کړو.

ددې مقالې له پاره مې معلومات له بېلابیلو درې کتابونو څخه را اخسیتي دي چې له بده مرغه په پښتو ژبه کي کم وه، او ما ونه موندل.

**د څېړني پوښتني**

د ټولګي مدیریت د تدریس او د زده کوونکو د زده کړې پر کیفیت څه اغېزه لري؟

د ټولګي مدیریت د زده کړه ایز چاپیریال پر نظم کومه اغېزه لري؟

د ټولګي مدیریت د شاګردانود تمرکز په ډېرښت کي څه رول لري؟

د ټولګي مدیریت د شاګردانو د ونډې په زیاتوالي کي څه دنده لري؟

**د څېړني مېتود او کړنلاره**

دا یوه کیفي څېړنه ده او ددې څېړني ډول کتابتوني دي، چې د ټولګي د ښه نظم او پر تدریسي کیفیت یې اغېزې له پاره معلومات د بېلابیلوعلمي او معتبرو کتابونو څخه راټول سوي دي، او د تشریحي او توضیحي مېتود په ټوګه تحلیل سوي دي.

**د ټولکی کنټرول او مدیریت**

مخکي له دې چې د ټولګي مدیریت تعریف او روښـــانه کړو. موږ باید پوه ســـو، چې د ټولګي د مدیریت په مهارتونو پوهیدل د نورو ټولو مدیریتونو په څېر، اکتسابي دي، نه ذاتي. کله چې و پوښـتل سي، چې د ټولګي مدیریت څه شی دی؟ معمولاً ځواب دا وي: چې د ټولګي کنټرول، اداري او نظم ته د ټولګي مدیریت وایي. د ټولګي مدیریت د زده کړې د تحقیق لپاره د اړینو شرایطو رامنځته کول دي.

د دې تعریف له مخي، موږ وینو چې زده کړه یا تدریس د ټولګي مدیریت ترټولو مهمه برخه ده. دا پدې معنی ده، چې که په ټولګي کي ښـــه نظم او کنټرول شـــتون ولري، خو زده کړه ترسره نسيـــ، نو ټولګی په سمه توګه مدیریت سوی نه ده او هغه اساسي برخه چې زده کړه ده، ترلاسه سوې نه ده. نو ښـاغلي ښـوونکي باید دا ټکی په پام کي ونیسيـ چې څنګه تدریس وکړي ترڅو زده کړه ښـــه ترسره سي، نه دا چې یوازې خپل ټول پام د ټولګي پر ارامه ساتلو متمرکز کړي.(فونتانا، ۱۳۸۴)

د اســـتاد شـــېرزاد په وینا ((کله چې د زده کړي خبره منځ ته راځي نو د فعالي زده کړي ی Active Education) یعني ښـــه زده کړه او (Quality Education) یا د فعالي زده کړي مفهوم په سر کي راځي، ځکه د ښـــوونځي ښـــوونکي او د زده کړي د نظام موخه هم د همدغي زده کړي، پلي کول دي))(شېرزاد ۱۳۹۵)

د درسي ټولګي غښتلی مدیریت:د ښوونکي په وسیله د درسي ټولګي اداره کول یوې خاصي پوهې، مهارت او هنر ته اړتیا لري. د ټولګي د مدیریت سبکونه یو له بله توپیر لري، ښوونکی کولای سي د ښوونې او روزنې د موخو، د زده کوونکو د پوره پېژندنې او درسي فضا په پام کې نیولو سره مختلف مېتودونه یا سبکونه تجربه کړي. په ټوله کې د ټولګي مدیریت او کنټرول درې ډوله مېتودونه یا سبکونه لري چي عبارت دي له:پر ډیموکراسي ولاړ مدیریت، پر نه دخالت ولاړ مدیریت، استبدادي مدیریت.(خپلواک، ۱۴۰۴).

الف: پر ډیموکراسي ولاړ مدیریت: دا مېتود د ټولګي د مدیریت له پاره یو ډېر ښه او ګټور مېتود دی؛ څکه چي زده کوونکي له تحصیلي اړخه ډېر پرمختګ کوي او څومره چي د ښوونکي او زده کوونکي تر منځ ښې اړیکې او درناوی موجود وي، په هماغه اندازه زده کړیالانو ته درس مهم او د پام وړ ګرځي. هغوی کولای سي له خپل ښوونکي څخه په یوه ازاده فضا کې د درس په هکله پوښتني وکړي، او د خپلې پوهې کچه لوړه کړي او ددې تر څنګ دوی خپله د ټولګي په مدیریت کې مرسته او کومک وکړي. د ښوونکي په لارښونه سره په فعالیتونو ګومارل کیږي په دې ډول ټولګیو کې د زده کوونکو او ښوونکي تر منځ ګډ تفاهم موجود وي او انضباطي ستونزې ډېرې نه را منځ ته کیږي.(خپلواک، ۱۴۰۴).

ب: پر نه دخالت ولاړ مدیریت: په دې ډول ټولګي کې د ښوونکي د اداري موخې مشخصې او معلومې نه وي او ښوونکی د ښوونیزو او روزنیزو موخو په تر سره کولو کې نیمګړتیا احساسوي. د تدریس او ټولګي د مدیریت له پاره امادګي نه لري، زده کوونکي ازاد پرېږدي تر څو کوم کار چي یې زړه وغواړي سر ته یې ورسوي. هر کار ددوی په خپله خوښه وي. همدارنګه په دې مېتود کې د مشخصو موخو د نه شتون او درسي ټولګي د مدیریت د ضعف په سبب زده کړه کمیږي؛ نو په دې خاطر تر ټولو ناوړه مېتود همدا مېتود دی.(خپلواک، ۱۴۰۴).

ج: استبدادي یا د زور زیاتي مدیریت : هغه ښوونکي چي په درسي چارو کې له استبدادي او زورزیاتي مدیریت څخه کار اخلي، زده کوونکي په شدید ډول کنټرولوي او محدودوي یې. په دې ډول مدیریت کې زده کوونکی د پوښتني کولو اجازه نه لري، ټول تصمیمونه د استاد او ښوونکي پر غاړه وي، زده کوونکو ته ډېر احترام نه کیږي، زده کوونکي د هیجان او ا ضطراب لرلو په خاطر د مسولیت احساس نه کوي او زده کړه چنداني صورت نه نیسي- هغوی د ښوونکي په حضور کې د فعالیتونو د تر سره کولو له پاره هڅې کوي؛ ولې کله چي ښوونکی شتون و نه لري هیڅ فعالیت او

کوښــښ نه کوي، په داسي حال کي چي پر ډېموکراســۍ مديريت کي زده کوونکي هڅي کوي څو خپلي چاري په ښه ډول سره سرته ورسوي، په دې مېتود کي ښوونکی د مديريت په برخه کي اصلي رول لوبوي؛ نو په دې سره ښــوونکو ته لازمه ده چي د مديريت او کنټرول په اړوند معلومات ولري او که د درسي ټولګي د مديريت کولو په اړوند پوره معلومات ونه لري د زده کړي پرېښــودل، په ټولګي کي بې ځايه خبري کول، غم او خپګان، د ښــوونکي پر وړاندي د زده کوونکو مقاومت، د زده کوونکو تر منځ د رفاقت نه شـتون او له درس او زده کړي سره د علاقې په نه درلودلو کي ډېري ژوري اغېزې لري. روښـــانه خبره ده؛ چي پـه درسي ټولګي کي د ښــوونکي د رهبری څرنګوالی، ددې غبرګونونوپه را منځته کيدلو کي بنســتيز او عمده رول لري.لنډه دا چي دا ډول اداره د هغې اداري برعکس ولاړه ده، چي په ډېموکراسۍ ولاړه وي چي زده کوونکو ته په کښي ارزښت ورکول کيږي او زده کړه په آســانۍ سره ترسره کيږي. په دې ډول اداره او مديريت کي زده کوونکي له ښــوونکي سره علاقه نه لري، زده کوونکو ته ښـوونځی او لوستځی د علاقې او دلچسـپۍ وړ نه وي؛ نو دوی نه سي کولای چي په دغه ډول محيط کي په لازمه توګه ښووني ته لاسرسۍ ولري او په درسونو کي پرمختګ وکړي.(خپلواک، ۱۴۰۴).

**د ټولګي په مديريت کي د ښه درسي پلان درلودلو کټي.**

يوه بله مهمه مو ضوع چي د ټولګي په مديريت او کنټرول ونډه لري هغه د ټولګي د تدريس له پاره پلان دی.پلان يوه ذهني طرحه او نقشـه ده، چي د پلان په وسـيله ښـوونکی کولای سي چي په خپله ځان او زده کوونکي و هدف ته ورسوي.

درسي پلان بايد لنډ او مختصر ـ وي او هدف ته د رسېدو ټولي لاري چاري په نظر کي په کښې نيول سوي وي، په درسي پلان کي د درس ټولي کليدي او بنسټيزي مسئلې لکه :درسي هدفونه، د درس ور کولو اصول او مېتودونه، د پوښتني کولو تکنيکونه، د ټولګی تنظيم او کنټرول،وخت او درسي لوازم په خپله د ښوونکي او زده کوونکي د فعاليتونو ارزونه پکښې په ډاکه پکښې سنجول سوي وي، د پلان په وسيله يو ښوونکی د درس ورکولو پر موضوع حاکميت او برلاسی پيدا کوي چي موضوع څرنګه تدريس کړي. پلان بايد تغير منونکی وي او احتمالي شرايط پکښــي ځای پرځای ســوي وي.يعني ښــوونکي د زده کوونکو د حالاتو سره ســم په فعاليتونو کي تغير او تبديل راوســتلای سي.(شرفزی، ۱۳۹۶).

**له فزيکي او رواني اړخه د ټولګي چاپېريال:**

هغه فضـــا او چاپیریال چې په ټولګي کې د تدریس له پاره ایجادیږي او را منځته کیږي دوه اړخونه لري.اول د ټولګي چاپیریال له فزیکي اړخه او دوهم د ټولګي چاپیریال له رواني اړخه. (د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

اول د ټولګي چاپیریال له فزیکي اړخه: د ټولګي چاپیریال له فزیکي اړخه څخه دادی، چې د زده کوونکو په خپل ځای باندي کښېنول، شـیان او درسي مواد په ټولګي کې موجود دي لکه: مېز، چوکي، تخته، تباشیر او یا هم مارکر قلم ، درسي کومکي مواد او داسي نور ... (د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

**دوهم د ټولګي چاپیریال له رواني اړخه.**

د ټولګي چاپیریال له رواني لحاظه هغه چاپیریال ته وایي، چې د ښـــوونکي په وســـیله د ښـــوونکي شـخصـیت، د زده کوونکو سره د هغه د چلند طرز، د هغه د اشـارو او حرکاتو، د سـترګو د تماس د بر قراره کولو، خواخوږی، د ادراک حس او د هغه د احساس کولو څخه را پیدا کیږي. ددې له پاره چې په ټولګي د یوه اغیزمنه رواني فضــا را منځته سي، ښـوونکی له زده کوونکو سره او زده کوونکي له یو بل سره باید دغه لاندي ټکي په نظر کي ونیسي. (د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

**۱: دوستی، خواخوږی او همکاری فضا**

ښوونکي له زده کوونکوسره باید د سالمي او د اصولو او نورمونو په رڼا کي د دوستي او همکاري فضا ولري او همدا رنګه زده کوونکي په خپل منځ کي د زده کوونکو سره د همکاری او یو بل ته د درس ښودلو او دوستي فضـا ولري چي نه استاد او نه هم دوی یو له بله بده خاطره ولري هر څه او هر کړنه په صـــمیمیت وسي.کله کله ځیني شـــاګردان و خواخوږی ته اړتیا لري که پر وخت دا چاره تر سره نه سي ښه پایلي نه لري. (د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

**۲: د باور لرلو او درناوي حس**

په ټولګي کي ایجاد سوې فضا باید داسي وي، چي زده کوونکي په هغې کي د اعتماد احساس وکړي. ښـــوونکی د زده کوونکو و شـــخصـــیت ته درناوی وکړي او د زده کوونکو له ښـــکاره ملامتیا او تحقیر څخه مخنیوی وکړي،ځکه د ښـــوونکي چلند له زده کوونکو سره ددې باعـث ګرځي چي هغوی پر ښـوونکي اعتماد پیدا کوي او زده کوونکي له ښـوونکي څخه د یوې نمونې په ډول اسـتاده کوي او له هغه څخه پیروي کوي. که د ښـــوونکي مناســـبات پر دیکتاتوری او یوې تونديي رویې ولاړوي، د زده کوونکو جرئت کمیږي او د زده کړې فضــا به ګټوره نه وي او د عقدو د ایجاد باعث به وګرځي، لنډه

دا چي په ټولګي کي رواني فضـــا پر زده کړه ډېره اغېزه لري. ددې له پاره چي په ټولګي کي مناســـبه فزیکي او رواني فضا منځ ته راوړو باید په ټولګي قوانین او مقررات وضع کړو. (د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

**د ټولګي قوانین، مقررات او ډسیپلین:**

د ډسیپلین کلمه په انګلیسي ژبه کي د انظباط، انتظام، ترتیبول، څارل، قواعد، مقررات او نظم و ترتیب تنظیم راوستلو ته وایي.د ښووني او روزني په اصطلاح کي ډسیپلین هغه وضع او حالت تشریح کوي، چي ښوونکی په ټولګي کي د تدریس له پاره یوه خاصه قاعده یا مقرره انتخابوي چي هدف یې نظم، انضباط او څارنه وي؛ تر څو زده کوونکي تر نظم او ترتیب لاندي راولي. هغوی تادیب کړي او تر قاعدي او انظباط لاندي یې وساتي. له دې امله باید هر ښوونکی په ټولګي کي یو مشخص او معین ډسیپلین ولري؛ تر څو په خپله ښوونکي او زده کوونکي د دهغه په مطابق عمل وکړي. ښوونکی باید خپل زده کوونکي د خپل و ضع سوي ډسیپلین په اړه پوه کړي او دغه ډسیپلین باید ثابت او یو ډول وي او په ټولګي کي یو ډول تطبیق سي. که مقررات او ډسیپلین هره ورځ په ټولګي کي بدلون کوي د زده کوونکو له پاره ستونزي را پیدا کوي، او د ټولګي نظم خرابیږي ځکه زده کوونکي نه پوهیږي چي ښــوونکی له دوی څخه څه غواړي. د مثال په ډول یوه ورځ ښــوونکي د زده کوونکي څخه کورنۍ دنده غواړي بله ورځ یې نه غواړي او همدا رنګه له حده زیات ډســیپلین څخه دي هم مخنیوی وسي او یوازي دي دومره مقررات په نظر کي و نیول سي  چي د ټولګي د نظم او کنترول له پاره اړین وي. (خالقیار، ۱۳۹۹).

**د ټولګي فیزیکي تنظیم.**

د ټولکي فیزیکي تنظیم او برابروالی هم پر تدریس باندي اغېز لري. ټولګی باید په دوه ډوله سره تنظیم سي.

الف: د ټولګي تنظیم د زده کوونکو د کښېناستلو له لحاظه

ب : د ټولګي تنظیم د موادو له لحاظه

(د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

**په ټولګي کي د اړین ډسپلین څخه ګټه اخستل**

ښوونکی باید په ټولګي کي د زیاتو قوانینو او ډېر ډسپلین څخه ډډه وکړي او د دونه ډسپلین څخه کار واخستل سي چي د ټولګي د موثر محیط د ساتلو له پاره په کار دی.

د ځینو ټولګیو له پاره زیات ډسپلین او د ځینو له پاره لږ په کار دی، او د ښوونکو له پاره هم په کار ده چې د یو ټولګي له پاره لازم ډسپلین درک او بیا یې په کار یوسي.هر څومره چې ښوونکی د ټولګي په نظم او کړنلاره کې ژر تصمیم ونیسي-او زده کوونکي د خپلو قواعدو او دستورونو څخه خبر کړي په هماغه اندازه یې د خپل اصل کار د اجراء په هکله اغېزمن قدم پورته کړئ دی.( الفت،۱۳۹۳)

**الف: د ټولګي تنظیم د زده کوونکو د کښېناستلو له لحاظه:** کله چې درس ورکوئ زده کوونکي په ټولګي کې ډول او څنګه کښېنوئ؟ یا په بله ژبه ستاسي د فزیکي کوټې (ټولګی) فزیکي وضعه څنګه وي ؟

درسي خونه چې څومره امکان ولري هغومره دي د زده کړي له پاره اسوده او سم تیار کړل سي، چې د درسي خونې ترتیب او د زده کوونکو د کښېناستلو ډول په تدریس او د زده کړي په عملیه باندي زیاد تاثیر لري. ښوونکی باید زده کوونکي د درسي روش او عملي فعالیتونو په اساس سره تنظیم کړي. که زده کوونکي ډېر وي او چوکۍ ونه لري باید ښوونکو و هغو زده کوونکو ته لارښوونه وکړي او په مناسب ځای کې یې پر فرش کښېنوي او یا د دکور څخه د وړو توشکو سپارښتنه ورته وکړي او دا ټولګي یې د نورو جسماني ناروغیو سبب ونه ګرځي. د تلو او راتلو په وخت کې خپل بوټونه په منظم ډول د ټولګي یوې خواته وکاږي. (د مقالو ټولګه،بېلابېل لیکوال.(۱۳۹۰).

هغه زده کوونکي چې لنډه ونه یا قد ولري د ټولګي په مخکي قطار کې ځای ورته ورکړل سي او همدا رنګه دي د زده کوونکو د لیدلو او اورېدلو حس په پام کې ونیول سي . د زده کوونکو د کښېناستلو له نظره په ټولګي کې د بدلون د زده کوونکو د ځانونو د بدلون او تغیر سبب ګرځي،که چیري په عمومي ډول لایق زده کوونکي د ټولګي د مخ په قطار کې او ټنبل زده کوونکي د ټولګي په اخیري قطار کې کښېنول سي او ځایونه یې تل ثابت وي، دغه عمل ددې سبب کیدای سي چې د زده کوونکو په منځ کې یو ناسالم رقابت او تضاد را پیدا سي؛ نو ځکه ښوونکی باید هڅه وکړي چې د ټولګي فزیکي جوړښت او د زده کوونکو د ناستي ځایونه داسې بدل او تغیر کړي چې دغه بدلونونه لاندي ګټې ولري.

۱ : د زده کوونکو له پاره په زړه پوری وي.

۲: په کار او فعالیت کې یو ډول ونډه او برخه ولري.

۳: زده کوونکي ښه درس زده کوي.

۴: زده کوونکي له هري وضعي او موقیعت سره عادت نیسي.

۵: د هر روش او درسي فعاليت له پاره زمينه برابريږي.
٦: د زده کوونکو اندېښنه ورکيږي او له يو بل سره د همکارۍ او کومک روحيه پيدا کيږي.
د ټولګي فزيکي خواوي په مختليفو حالاتو کي د روشـونو او مېتودونو په کارولو او په تدريس کي د عملي فعاليتونو له پلوه په دې توګه ښـودل کيږي: لکه د انګرېزي د / U/ په شـکل د دايرې په شـکل مخامخ ، راسته او چپه طرف ته او داسي نور....(د مقالو ټولګه،بېلابېل ليکوال.(۱۳۹۰).

**ب : د ټولګي تنظيم د موادو له لحاظه.**

د ټولګي تنظيم د موادو له لحاظه هم د زده کوونکو په زده کړي کي څرګنده اغيزه لري. ښوونکي بايد چارتونه او تصويرونه په ټولګي کي په منظم ډول نصب کړي، چي ټول زده کوونکي له هغو څخه ګټه واخسـتل سي. که د ټولګي دېوالونه خام وي سرېښ نه اخلي ښـوونکی کولای سي چي د ټولګي په څلورو کونجونو کي ميخونه ټک وهي او تناو ورواچوي چارتونه او تصـويرونه په تناو کي بند کړي. دغه مواد بايد په تحميلي ډول د زده کوونکو له خوا برابر کړل سي ښوونکی کولای سي په خپل درسي ساعت کي د موادو د برابرولو له پاره ګروپي او يا انفرادي کارونه سرته ورسوي او لاس ته راغلې نتيجه په ټولګي کي وځړوي.
يعني ښـوونکی بايد هڅه وکړي چي هم ټولګی د کښـښاسـتلو او هم د تزيني مواو، چارټونو او تصويرونو له لحاظه ترتيب او منظم کړي.
(د مقالو ټولګه،بېلابېل ليکوال.(۱۳۹۰).

**په ټولګي د بې نظمۍ د ستونزو حل**

ځيني وګړي په دې اند دي، که په ټولګي کي د ډسـپلين دسـتورونه او مقررات دمخه روښـانه سي د زياتو سـتونزو مخه به مو نيول کيږي؛ خو دا بايد په ګوته کړو چي په تنظيم سـويو ټولګيو کي هم ډسپليني ستونزي منځ ته راځي، ښوونکی بايد د هغو د حل له پاره د مخه لا تياری نيولی وي د ستونزو د حل له پاره لاندي يادوني اړيني دي.
۱ــــ ښوونکی بايد هڅه وکړي چي په ټولګي کي د اخلال پر وخت تدريس ونه کړي په داسي حالاتو کي زده کوونکي چپ وساتل سي او بيا وروسته درس پيل کړي.
۲ــــ ښـوونکی بايد حالت کنټرول کړي او د لوړ اواز او چيغو وهلو څخه ډډه وکړي په نرم اواز خبري وکړي او مسايل په ډېره سړه سينه حل کړي.

۳ــ ښوونکی پرې نه ږدي چي حالت د کنټرول څخه ووزي، په ټولګي کي د زده کوونکو د سلوك او کړو وړو په هکله مناسب معیارونه وکاروي.

۴ـ د ښوونکي وضعه باید سخته او سپکه نه وي بلکي ارامه او سنجول سوي او مودبانه وي.

۵ـــــ ښـــوونکی باید ټولي ســـتونزي په خپله غاړه وا نخلي بلکي امر او سرښـــوونکی په خبر کړي.( الفت،۱۳۹۳)

**د ښوونکي دلچسپي او ذوق په زده کړه او د ټولګي په کنټرول کي مهم رول لري.**

ښـــوونکی کولای سي د زده کوونکو د تدریس په برخه کي له موادو څخه په اســـتفادې سره مثبت اثر ولري او دا معلومه سوې ده هغه ښوونکي چي له درسي موادو سره یې علاقه ښودلې ده نو د زده کړې په برخه کي یې له زده کوونکو مثبته نتیجه تر لاسه کړې ده د ارزښت موندني په پرګرام کي ښوونکو ته څرګنده ســـوه چي هغو ښـــوونکو مثبته نتیجه تر لاســـه کړه چي د درسي موادو له تهیې سره یې علاقه درلوده دغه ښـــوونکي په تکراري بڼه تدریس نه کوي بلکي کوښـــښ کوي چي درسي مواد د ورځي مطابق ترتیب کړي. هغه مشـــکلات چي په دې روش کي موجود دي دادي چي ښـــوونکي په دوامداره توګه یو تعلیمي نصـاب تدریس کوي چي دا ورته سـتړی کوونکی دی او همدا رنګه د زده کوونکو له پاره هم ســـتړی کوونکی کیږي. زده کوونکي هم هغه ښـــوونکي په لوړ ردیف کي دروي چي په مینه تدریس کوي، د هغو ښـــوونکو په نسـبت چي علاقه نه لري. درې مهم اړخونه چي ښـــوونکي باید له هغو سره ذوق او علاقه ولري ۱ له لوســـت سره علاقه ۲ د زده کوونکو سره علاقه ۳ او د مضـــمون له موضوع سره علاقه څخه عبارت دي چي ښـوونکی له تدریس څخه خوند واخلي او درس ګټور تمام او یوه ښه منظم او کنټرول ټولګي ولري.(خالقیار،۱۳۹۹)

**د ټولګی د اداري او کنټرول د بهبود له پاره لس اشتباوې دي چي باید مخه یې ونیول سي.**

**۱ له خپلو زده کوونکو سره هیڅ وخت دوست کیږی مه تر څو چي دوی په ټولګی کي وي.**

ستاسو چلند باید له زده کوونکو سره دوستانه وي، خو له خپلو زده کوونکو سره دوست کیږی مه. دا دوستي ددې لامل کیږي تر څو موږ له خپل دوست څخه څه شی واخلو او یا یې هم ور کړو ، دغه کار تاسو په ټولګی کي د ټولو زده کوونکو په وړاندي له ډېرو سختو شرایطو سره مخامخ کوي. دا همېشه په یاد ولرئ چي تاسو د هغه ټولګي کوم کس نه یاست.

۲ د هغو زده کوونکو په مقابل کي خپل ســبق مه دروئ چي سرغړونګي دي: البته په دې حالت کي بېل بېل زده کوونکي دوتلو لار نه لري او کولای سي چي تاسي له جدي مشکل سره مخ کړي نو غوره داده چي هغه سرغړونکي زده کوونکي پر يوه بېله ليکه ودروئ تر څو له نورو سره يې تفاوت وسي.

۳ هيڅ وخت خپل زده کوونکي تحقيروئ او توهينوئ مه :په ټولګي کي د زده کوونکو تحقير او توهين ســم کار نه دی، له يوې خوا يې روحيه کمزورې کيږي او له بلې خوا هيڅ وخت ســتاســو په ټولګي ځان راحت نه احساسوي او همدارنګه هيڅ وخت پر تاسو باور نه کوي او دغه خپګان ستاسو په ټولګي کي د نفاق سبب کيږي، چي دا سم روش نه دی.

۴ هيڅ وخت چيغي مه وهئ:که چيري يو ځل چيغه ووهئ دا معنی لري چي په مبارزه کي مو ماته وخوړه، دا د دې معنی نه لري تاســو هيڅ وخت خپل ږغ مه پورته کوئ؛ خو هغه ښــوونکی چي غالمغالي وي همېشه بد صنفونه لري.

۵ هيڅ وخت خپل کنټرول و زده کوونکو ته مه ورکوئ: هر تصميم چي په ټولګي کي نيول کيږي بايد ستاسو له لوري وي او په ښو دلايلو ونيول سي. زده کوونکي دا غواړي چي له ازموينې څخه بريالي را ووځي او تاسو يې بايد هيڅ وخت پرې نه ږدئ چي داسي وسي حتی که دليلونه يې ښه او ارزښتمن هم وي، اجازه مه ورکوئ چي داسي وسي.که د زده کوونکو ټولو غوښتنو ته توجه وکړئ ستا وقار او عزت به په اسانی سره له منځه ولاړ سي.

۶ د شــخصيــ دوســت لرلو او نه لرلو پر بنســټ هيڅ کله له خپلو زده کوونکو سره متفاوت چلند مه کوئ:امکان لري چي په ماسومانو کي داسي ماسوم هم وي چي د نورو ماسومانو په نسبت پر تاسو ګران وي، تاســو بايد زيات کوښــښ وکړئ، چي خپل دغه احســاس نورو زده کوونکو ته په ډاګه نه کړئ ټولو زده کوونکو ته په يوه ســترګه وګورئ حتی د مجازاتو پر مهال هم د هغو زده کوونکو مجازات کم نه کړئ چي درباندي ګران دي.

۷ نا مناسب قوانين مه ايجادوئ:ځيني وختونه قوانين تاسو له سختو شرايطو سره مخامخ کوي د مثال په ډول که چيري يو ښــوونکی زده کوونکي ته د اجازې ورکولو قانون ولري دا خپله مشــکلات پيدا کوي، که چيري يو زده کوونکی ســمه پلمه ولري څه سي کولای سي چي يوه ســمه پلمه وي.غوره به دا وي چي د دغه شان حالاتو مخه ونيول سي.

۸ د نورو ښــوونکو په باره کي شــکايت او ناوړه خبري مه کوئ:ښــايي تاسي يوه ورځ له خپلو زده کوونکو څخه د نورو ښوونکو په باره کي ناوړه خبري واورئ، تاسو بايد دغه شان خبري زده کړئ او

په خپله یې د اداري سره شریک کړئ او هغه څه چي ستاسو زده کوونکي یې وایي باید مخصوص نه وي.

۹ګډوډ مه اوسئ:څه چي وایاست باید سرته یې ورسوئ، او څه چي سرته رسوئ باید ستاسو د کورس مطابق وي.د درجه بندی په جریان کي باید د زده کوونکو مخکیني کارونه په پام کي ونیسـئ، او سـتاسـو د کارونه باید قواعد او مقررات ولري. زده کوونکو ته اجازه مه ورکوئ چي د ټولو نومرو د ترلاسه کولو په غرض تېرو کارونو ته رجوع وکړي. دا ددې سبب کیږي چي له خپلو اوسنیو کارونو به پاته سي. کله چي زده کوونکي درجه بندي کوئ، د هغوی د درجه بندی له پاره غوره چي سـور قلم وکاروئ. دا له دې سره مرسـته کوي چي تاسـو محفوظ وئ او خپلو زده کوونکو ته دلیل ولرئ که چیري ستاسو زده کوونکي راضي وي نو خپله مفکوره مه بدلوئ.

۱۰ د ټولګي وخت د خپل شـخصي-او کورني ژوند په باره کي په خبرو مه ضایع کوئ:زده کوونکي ښـایي له دې سره مینه ولري چي سـتاسي په باره کي معلومات و لري. خو دا ځیني وختونه د اغېزمن تدریس لامل کیږي زده کوونکي ستاسي په باره کي صحبت وکړي او وروسته کیدای سي ستاسو په باره کي له یو بل سره شرط کنښېږدي او تر لوست وروسته په سوخی او حیلې سره ستاسو مزاهم سي او خپلي شخصي کیسې بیانوي.

د هر درسي ساعت تر پیل د مخه باید مختلف، ساده او بوختونکي فعالیتونه ولرئ، له دغو بوختوونکو فعالیتونو څخه باید هره ورځ د ښـووني او روزني ټول ښـوونکي اسـتفاده وکړي او مواد یې مخکي له مخکي ولري. دا فعالیت دي د هر درسي سـاعت له پیل څخه مخکي ورکول سي. دمخه فعالیت باید د تېر درس د تکرار او یا نوي درس د معرفی په برخه کي وي. ښـوونکی خپلو زده کوونکو ته ځیني تعلیمي فعالیتونه ور کوي د فعالیت په جریان کي ښوونکی کولای سي نوري چاري سرته ورسوي دغه فعالیتونه زده کوونکو ته قوت ورکوي چي د لوسـت مهم ټکي ذهن ته و سـپاري. دغه شـان فعالیتونه ډېر اغیزمن دي او هر ښـوونکی باید له دغه شـان فعالیتونو څخه اسـتفاده وکړي.د ټولو ټولګیو له پاره بوختونکي فعالیتونه دي او کولای سي چي د ټولګي په کنترول کي رغنده رول و لوبوي. او تاسـو کولای سئ له دغه شـان فعالیتونو څخه د هغومضـمونونو له پاره استفاده وکړئ چي تاسي یې تدریس کوئ. (د پرمختللي پیداګوژی پېژندنه ۱۳۹۲)

**موندني**

ددې مقالې په لیکلو سره موږ دا ترلاسه کړه، چې کله ښوونکی ټولګي ته ځي د هر څه له مخې باید د ښوونکي سره منظم تدریسي- پلان وي چې مخکې له تدریس څخه استاد له ځان سره جوړ کړي او ښوونکی یې په ټولګي کې تطبیقوي،چې دا د ټولګي په تنظیم ډېر رول لري.

د ټولګي مدیریت د اغېزمن تدریس بنسټ دی، که په ټولګي کې نظم، کنټرول او روښانه اصول موجود وي، زده کړه ښه ترسره کېږي.یوازې ارامه فضا بسنه نه کوي؛ اصلي هدف باید زده کړه وي،د ټولګي ښه مدیریت د تدریس کیفیت لوړوي.

بله مسله چې د ټولګي په کنټرول او مدیریت کې تاثیر او اغېز لري، هغه د استاد مسلکي پوهه ده، چې دا مسلکي پوه او د ښوونکي نور مهارتونه هم پر تدریس او هم د ټولګي پر ښه تنظیمولو باندي تاثیر لري.که ښوونکی مسلکي او ماهر نه وي نو زیات وخت به د ټولګي د فضا په ارامولو کې تېر سي.

ښوونکی باید په ټولګي کې ځانګړي او منظم ډسپلین ولري، زده کوونکو ته باید د مخه خبرتیا ورکړي چې دی په ټولګي کې څه ډول تګلاره غواړي او دده مقررات په ټولګي څنګه دي. د ښوونکی مقررات او ظوابط باید په ټولګي کې ثابت او یو ډول وي، زده کوونکي باید پوه سي چې ښوونکی څه ورڅخه غواړي دهغه د غوښتنو مطابق باید عمل وکړي په پایله کې به د ټولګي فضا ارامه وي او ښه تدریس به تر سره سي.

ښوونکی باید زده کوونکي د امکان تر حده مستریح ( ارام ) او په ترتیب سره کښېنوي او په ټولګي کې د زده کوونکو د کښېنولو ترتیب ته هم پاملرنه وکړي، ځکه د زده کوونکو سالم کښېنول په زدکړه کې هم مثبته اغېزه لري.

همدا رنګه دا ټکي هم د یادولو وړ دي چې په درسي مېتودونو کې ناڅاپي بدلون راوستل که څه هم د پیداګوژیکي یا د تدریس د فن له نظره مثبت ګام دی خو په ټولګي کې به ستونزې رامنځ ته کړي.

د ټولګي اغېزمن مدیریت د تدریس کیفیت لوړوي، د زده کوونکو تمرکز، ګډون او مهارتونه زیاتوي، او د زده کړې لپاره سالم فزیکي او رواني چاپېریال رامنځته کوي. تر ټولو غوره مدیریت هغه دی چې پر ډیموکراسۍ، درناوي، منظم پلان او عادلانه ډسپلین ولاړ وي.

**پایله**

ددې څېړني په اخر کي دې پایلي ته رســیږو چي د ټولگي په مدیریت کي او همدارنگه په اغېزمن تدریس کي ډېر رول ښوونکی لري ښوونکی باید د ټولگي چاپیریال له ښېري لرې وساتي ترڅو د زده کړې لپاره زمینه برابره کړي او هڅه دې وکړي چي په ټولگي کي ننگوني رامنځته کړي. ترڅو د زده کړې ســتونزې حل سي او پرمختگ رامنځته سي. ځکه چي زده کړه له ننگونو سره ډېرېږي او له گواښــونو سره کمیږي. له همدې امله، ټولگی باید د زده کونکو لپاره ننگونکی وي، نه ویرونکی او گواښــونکی. کله چي د ټولگي چاپیریال د زده کوونکي لپاره خوندي او آرام نه وي، زده کوونکی نسي کولی په رواني او فزیکي توگه خپل حواس د ښوونکي پر درس متمرکز کړي. ځکه هغه ښېره چي په زده کوونکي کي رامنځته سوې، د هغه حواس یې گډوډ کړي او هغه یې له زده کړې په بشــپړه توگه راگرځولي.

له تېروتني بیره چي گواښ او ســپکاوی به ورسره وي، د زده کوونکي په درس کي د فعال گډون مخه نیسي-، په داسي حال کي چي ډېری ښــوونکي فکر کوي چي څومره ویره په ټولگي کي حاکمه وي، هماغومره زده کوونکی ډېر زده کړه کوي او دا مفکوره په بشــپړه توگه د تدریس میتودونو سره په ټکر کي ده. نو په لومړي گام کي گران ښــوونکی باید هڅه وکړي چي یو خوندي او دوســتانه چاپیریال رامنځته کړي ترڅو تدریس په اســانۍ او د زده کوونکو په فعال گډون سره ترسره سي. په هغه ټولگي کي چي تدریس په خوندي چاپیریال کي ترسره کیږي، په داسي ټولگي کي د زده کړې شــونتیا ډېره وي.

گران ښــوونکی باید په ټولگي کي ځان یو حاکم ونه گڼي او له زده کونکو او پیښــو څخه جلا نه وي چي په ټولگي کي تیریږي، بلکي باید ځان په ټولو پیښــو کي ښــکیل وگڼي او له زده کوونکو سره یو ځای وي، نه د زده کوونکي پر وړاندې. کله چي ښوونکی په ټولگي کي له زده کوونکو سره وي او د لارښــود دنده لوبوي، زده کوونکی کولای سي د ښــوونکي پوښــتني ښــه ځواب کړي یا په درس کي فعال رول ولري او یا هم پــه اســانۍ سره هر هغه پوښــتنــه چي د درس پــه اړه یې پــه ذهن کي تیریږي،وپوښــتني. کله چي ښوونکی ځان په ټولگي کي شریک وگڼي، د ښلگي په توگه وښــیي چي په هغه کار کي چي کوي یې علاقه لري او پر خوله یې د ر ضایت مســکا وي او په لیوالتیا سره خبري کوي، په ټولگي کي مثبت چاپیریال رامنځته کیږي.

له بده مرغه، یوه له هغو سـتونزو څخه چي لیدل سـوې ده، دا ده چي ځینې ښـوونکي له بدلون څخه پېره لري. ټول تدریس په رواجي بڼه کوي نوي مېتودونه نه کاروي دوی فکر کوي چي نوښـــت یا په چلند او میتود کي بدلون، یوه بې اهمیته مو ضوع ده، په داسي حال کي چي د نویو لارو او میتودونو تجربه کول بې ګټې ندي. د بېلګې په توګه، که مونږ نوې لاره غوره کړو، یا به ګټوره وي او یا به پوه سو چي زموږ په ټولګي کي کارنده نده. په پایله کي مو هیڅ له لاسه ندي ورکړي.

یوه بله پدیده چي ډیره لیدل سـوې ده، دا ده چي ښـوونکي د منظم تدریسي ـ پلان څخه اسـتفاده نه کوي بېله اماده ګی او پلانه تدریس کوي ځینې ښـــوونکي فکر کوي په چغې وهلو، غوســـه کولو، ګواښلو او وهلو ټکولو سره کولی سي د زده کوونکي پام درس ته راجلب کړي یا یې اطاعت ته مجبور کړي، په داسي حال کي چي د زده کوونکي د مطیع کولو لپاره مناسـبي لاري چاري لري. د بېلګې په توګه، هغوی ته په درس کي برخه ورکول. که ښـوونکی له زده کوونکي وغواړي چي له هغه وروسـته درس تشریح کړي یا د خپل مفهوم یا برداشت لنډیز ووایي، زده کوونکی به سرغړونه ونه کړي.چي دا ټول د یوه منظم تدریسي ــ پلان له لاري کیږي. یا هم د بېلګې په توګه، په ګروپي کړنه کي ورته یو مشخص رول ورکړي لکه «د ګروپ مشر»، په داسي شرایطو کي زده کوونکی د ښوونکي له دستوراتو سرغړونه نه کوي. د تدریس د نویو میتودونو کارول یا په تدریس کي بدلون راوستل آسانه کار نه دی، خو په هڅو او زیار سره کولی ســو بریالي ســو.که ښـــوونکی نوي مېتودونه وکاروي او د درس څخه مخکي یې منظم تدریسي پلان جوړ کړی وي نو آرام ټولګی او اغېزمن تدریس به صورت ونیسي.

**وړاندیزونه**

ددې بحث په اخیر کي د د ټولګي د کنټرولر یا ښـــوونکي ته دغه وړاندیزونه لرم، کله چي ښـــوونګي ټولګي ته داخلیږي مخکي له هغه باید کنټرولر دغه پوښـــتني له خپل ځان څخه وکړي او په ټولګی کي یې پلي کړي.

۱: کله چي ښـــوونکی ټولګي ته ننوځي باید د یوه کنټرولر په حیث ورځنی پلان ولري او د ټولګي په کنټرول کي ښه رول تر سره کړي.

۲: د ټولګي تنظیم او ترتیب باید د شاګردانو له رویه منظم کړي.

۳ـ د استاد فزیکي ( خپل ) ډسیپلین باید سم کړي.

۴: زده کوونکو ته باید یو ډول تشـــویق ورکړي، چي د ټولګي په تنظیم او مدیریت کي پوره ونډه ورسره واخلي.

۵: له مخکي تجربو څخه باید زده کړي چي کوم څه د ټولګي او درس د اخلال سبب ګرځیدل او د هغو له بیا تکرار څخه ډډه وکړي.

۶: ښوونکي دي هڅه دې وکړي چي په ټولګي کي ننګوني رامنځته کړي. ننګونه پخپله د پرمختګ لپاره د تخنیکي (پیداګوژیک) حللارو په لټه کي یو ډول سیالي ده ترڅو د زده کړې ستونزې حل سي او پرمختګ رامنځته سي. ځکه چي زده کړه له ننګونو سره ډېرېږي او له ګواښونو سره کمیږي.

**اخځلیکونه**


۱ میچل، مېرمن ډاکتر ایډنا.(۱۳۹۲). د پرمختللي پیداګوژی پېژندنه . د پوهني وزارت د ښوونکو د روزني لوی ریاست.

۲ خپلواک، محمد طاهر .(۱۴۰۴).د ښووني او روزني بنسټونه او اصول،سلیمان ماکو خپرندویه ټولنه، کابل.

۳ شرفزی، محمدشفیق.(۱۳۹۶). ښوونه او روزنه، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد.

۴ خالقیار، میرویس.(۱۳۹۹).د ښوونځی اداره، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد.

۵ د مقالو ټولګه،ببلابېل لیکوال.(۱۳۹۰). د ښوونکو د لوستني مواد څلورم چاپ: د پوهني وزارت

۶ فونتانا، دیوید.(۱۳۸۴). ترجمه ساده حمزه او مجید محمدي،کنترول کلاس،انتشارات رشد، ایران تهران.

۷ـ صالح، علي اکبر.( ۱۳۹۷ ). ښوونیزه اداره،ختیځ خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

۸ـ الفت،ولي امام. (۱۳۹۳).د تدریس زده کړه،مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

۹ – فیضيـ، رازمحمد.(۱۳۹٦). د تدریس زده کړه« تدریس اموزی» هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

۱۰ـ درمل، حسن خان.(۱۴۰۰). د ښووني او روزني بنسټونه، قریشي خپرندویه ټولنه، خوست.

۱۱ ــ علاقه بند، علي.(۱۳۹٦).ژباړن میرخیل، حبیب الله.د تعلیمي مدیریت بنسټونه،نویسا خپرندویه ټولنه.

۱۲ـ شهید زوی، محمد اسحاق.(۱۳۹۴).د ښووني او روزني بنسټونه،ګودر خپرندویه ټولنه، ننګرهار

۱۳ـ شېرزاد، پښتون اقا.(۱۳۹۵) د ژبي د تدریس اصول ، دوهم چاپ، نویسا خپرندویه ټولنه، کابل.

۱۴ـ رفیق، محمد رفیق.(۱۴۰۰) د پښتو ژبي د تدریس اصول، دریم چاپ، سمون خپرندویه ټولنه.


.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:2 Issue: 2 Year:1404